نستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

طب پوهنځی

# د جين تنظيم(GEN REGULA

Bost university

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| | |
|---|---|
| لړلیک | (3) |
| هدف | (4) |
| جین | (5) |
| د جین تنظیم | (7) |
| پوښتني | (10) |
| په پروکاریوتاووکي د جین تنظیم | (11) |
| *LAC OPERON* | (21) |
| په یوکاریوتاووکي د جین تنظیم | (25) |
| په یوکاریوتاووکي د جین تنظیم په مختلفو پړاوونوکي | (26) |
| **Kinds of Functional RNA** | (33) |
| **Reverse transcription** | (40) |
| اخځلیکونه | (41) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هدف

- د جین لنډه پیژندګلوي.
- په پروکایوتاوو کښې د جین تنظیم او اړوند مطالب.
- په یووکایوتاوو کښې د جین تنظیم او اړوند مطالب.
- Operon and lac operon

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جین gene

- ✓ جین د DNA یوه برخه ده او یا هم کیدای چی ځینې وخت د RNA یوه واوسې ، کوم چي همېشه پر کروموزوم باندي موقعت لري ،په خپل ځان کی د مختلفو پروټینونو د جوړېدو لپاره کیمیاوي معلومات لری ،خپله وظیفه خاص لکه د یو انزایم غوندي سرته رسوي ،چی کولای شی چی خاص پروټین کود او هم جوړ کړي


- ✓ جین په اولادونو کي د هغو معلوماتو د کنټرول دنده په غاړه لري ،کوم چی د والدینو څخه ورته په مراث کي ورپاتې دي ،او همدارنګه یو جین کولای شی چی نور جینونه متاثره ،او تر کنټرول لاندي راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جين gene


✓ د يوه نارمل انسان په هره جسمي حجره کی ۲۳ جوړې کروموزمونه شته دي ،او هر کروموزوم د يوه اوږد ماليکول DNA لرونکی دی ،دغه DNA بيا په خپل وار د ۱۰۰۰ دانو مختلفو کيمياوي ماليکونو لرونکې ده ،دغه کيمياوی واحدونه يا نيوکليوټايدونه په خپولو کي په مختفلو برخو کی سره يو ځای شوی او جين يې رامنځته کړي ،چی دغه جينونه د ارثي معلوماتو د انتقال دنده په غاړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




©1998 Encyclopaedia Britannica, Inc.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Gene Regulation-د جین تنظیم

- پلټونوکو ښودلې ده ،چې د یوې ژوندۍ حجرې په ارګانزم کې زیات جینونه ،د زیات او د یا بیخي د ټول عمر لپاره غیری فعاله وی ،نو! په ایوکاریوتاو او پروکاریوتاو کی ،جینونه کله بند کله چلان وی ،داسي ښکارې لکه د یو سویچ غوندي تر کنټرول چې لاندي وي.
- د جین تنظیم په ایوکارتاوو او پروکاریوتاوو کښې زیات توپیر لری ،چی دلته به یې په څو لنډو ټکو کی توضح کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Gene Regulation-د جین تنظیم

Repressor protein

یو ډول پروټین دی کوم چي د جین د څرګندېدلو مخنیوی کوي ،نومورۍ پروټین کیدای شي چي د DNA په سطحه باندي ونښلي د Transcription مخنیوی وکړی ،او یا هم د RNA په سطحه باندی ونښلي ،او د Translation مخنیوی وکړی.

Promoter

د DNA د مالیکول هغه سطحه په کومي باندي چي Repressor عمل کوي ،تر څو د Transcription مخه ونیسی.

Transcription factor

نومورۍ فکټور RNAP انزایم لپاره د Transcription د عملې د شروع لپاره اړین دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Negative regulation

په دې ډول تنظیم کښي یو repressor protein د promoter په سطحه باندي نښلي تر څو د جین د څرګندېدلو مخنیوی وکړی

## Positive regulation

په دې ډول تنظیم کښي بایدTranscription factor دpromoter په سطحه باندي ونښلي تر څو RNAP انزایم وه هڅوي چي د Transcription عملیه شروع کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## څو پوښتنې

- ولې په یوکاریوتاو کی د جین تنظیمېدل مغلق او سخت دي ؟
- Define Differential Gene Express
- Define house keeping genes
- د جین د تنظیمېدلو ساحې شرحه کړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په پروکاریوتاوو کی د جن تنظیم:

- ✓ په پروکاریوتاو ژونديو موجوداتو کي چي  د خپل محيط په مقابل کي ډير حساس دي.
- ✓ د محيط سره د توافق کولو ښه وړتيا لرى او توافق يې په ډيرى چټکي سره صورت نيسى.
- ✓ پروکاريوتاو د خپل محيط په اثر خپل جينونه فعالوى ياپې غيري فعالوى.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**له چاپیریال سره توافق:**


- ✓ د بکتریا د جینوم کوچینی جوړښت ددې سبب دی ،چي تر څو بکرتیا له محیط سره په چټکۍ توافق وکړی ،مثلاً د غذايي مواد شرایط او د حرارت تغیر.
- ✓ د E-coli بکتریا کولای شی چی ګلوکوز کوم چي یو مونوسکراید دی او لکتوز کوم چي ډای سکرایډ دی استعمال کړي ،په هرصورت:
- ✓ داچي د لکتوز تجزیه اړینه ده ،نو څکه بکتریاوي وه ګلوکوز تر لکتوز زیاته ترجېح ورکوي ،څکه ګلوکوز تجزيې ته اړتیا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی پر څلور حالته امکان لري:

①کله چي ګلوکوز شته وي او لکتوز نه وي ،نو E-coli بکتریا وی (B-galactosidease) انزایم نشي تولیدولای.


✓کله چي لکتوز قند نه وي ،نو په دې صورت کی ،(repressor)پروټینونه په جاري ډول جوړېږی ،او دDNAپه یوه برخه باندي حمله کوی ،فقط د lac operon په مخ باندي(operator site) باندي وصلیږی چی د (promoter site) بندوي ،چیري چی (RNA-polymerase) وصلیږی ،مخکي له دی چي د transcription عملیه شروع شی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

②


کله چې ګلوکوز او لکتوز دواړه موجود وی ، (E-coli)بکتریاوی بیا هم(B-gal) نشي تولیدولای ،که چیری دوی دواړه نه وی موجود ،دلته(RNA-Polymerase) انزایم د operon په(promoter site) باندې حمله کوی ،خو دا حمله بې ثباته وی ،او بیرته نوموړی انزایم لوېږی ،چې په نتیجه کی یې operonهمداسې off پاتې کیږی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

③

کله چي د لکتوز قند موجود وي ،په دې حالت کي په بکترياوي حجراتو کي په لږه اندازه يو ډول ځانګړي قندونه جوړېږي ،نومړي قندونه په(repressor) پروټينونو باندی حمله کوي ،جی په نتېجه کی د(repressor) پروټينونو د حملې کولو قوت کمزوری کوي ،څکه چي ددوي په شکل کی تغير راځي ،دابه نو د(allosteric site)په شان وی ،داسی چي د نومړي پروټينونو نښتل زيات دوام نه کوي ،نو دلته (RNA-Polymerase) انزايم ته موقع مساعده شوه ،او په (promoter site)باندي حمله کوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

④

کله چی یوازي لکتوز موجود وی ،په دې حالت کې د(activator protein) په نوم یو ډول پروټینونه اړین دی ،کوم چي دنده يې(RNA-Polymerase)انزایم د promoter په سطحه باندي محکم ساتل دی.

نوموړی پروټینونه هغه وخت فعالیت کوی ، کله چی ګلوکوز نه وی موجود

په همدې ترتیب E-coli بکتریاوی د ګلوکوز په نه شتون کې یواځې هغه انزایمونه تولیدوی ،کوم ګې نور قندونه کټلایز کوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


✓ په بکترياوو کي هغه عمليه ډېره ښه واضح کيږي ،د کومي په نتيجه کي جينونه فعال او يا هم غير فعاليږي

په صورت عموم سره بکتريا دري ډوله جينونه لري:

1: structural gens

2: operator gens

3: regulator gems



(c) ketabton.com: The Digital Library

## (structural genes)

دا ډلی جینونه د پروټینونو او انزایمونو د جوړښت دنده په غاړه لری ،یعنی خپله  د پولي پیپټایډونو لپاره کود دي.

## (operator genes)

نومړی جینونه دداسي کود لرونکي دي ،کوم چي د ټرانسکرپشن د عملیې د شروع کېدو لپاره اړین دي ،دDNA میسج وه mRNAته خپله structural genes دي ،نو دغه(structural) جینونه د(operator) جین په مشخصه وظیفوي ساحه کي سره لینک کیږي ،چی دې ته خپله(operon) ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (regulator genes)

په دې ترتیب په نتیجه کی د(operon)فعالیت د(regulator gen) په واسطه کنټرولیږي ،کوم چي د(repressor) په نامه کوچیني پورټیني مالیکولونه تولیدوي (Repressor) په (operator gene) پورې وصل کیږي ، او نه یې پریږدي چي تر څو د پروټین سنتیز عملیه شروع کړي.

- ✓ د(repressor) پروټیني مالیکول شتون ،نه شتون خپله دداسي حکم په معنی دی چي ایا operon دی بند وی که چالان ،لکه د یوې اشارې غوندی ،چی دا دبکتریا یو په زړه پورې ومودل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Lac operon (lactose operon):

- ✓ جوړښت ؛ نوموړی سیستم د(promoter , terminator , regulator)برخو او درې ډوله ساختماني جینونو لرونکو لرونکې دی:

1: lac"Y"

2: lac"Z"

3: lac"A"

(c) ketabton.com: The Digital Library

Lac"Y"

نومړی جین د( Beta-galactoside permease) انزایم کوډ کوی ،نوموړی انزایمونه یو ډول غشاوی symportorsدی یعنی حجروي سوري دي ،کوم چي lactose لرونکي(Beta- galactoside) حجرې ته داخل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Lac"Z"

د ( B- galactosidase) انزایم کوډ کوي ،نوموړی انزایم یو داخل حجروي انزایم دي ،چې دا ی سکرایډ لکتوز په مونو سکرایدونو ګولوکوز او ګلکتوز باندی تجزیه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Lac"A"

نومړي جينونه( B-galactoside transacetylase) انزايم کوډ کوي ،کوم چي د acetyl د ګروپ د انتقال دنده په غاړه لري.

Regulation:

د lac operon ځانګړی کنټرول ، د lactose په موجوديت پورې اړه لري ،داسې چي که چيري نومړي قند نه وی موجود نو د بکتريا په واسطه پروټينونه توليديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په یوکاریوتاوو کې د جین تنظیم:

د یوکایوتاوو جینونه د operon برخه نه لري نو ځکه دوي په ازادانه ډول تنظیم شوي.

په حقیقي هسته لرونکي کښي نظر وه پروکایوتا ته د جین تنظیم زیات پیچلی دی ،دا ځکه چي د یوکایوتا حجرات د دندي او شکل له مخي له یو بل سره متغیر دی ،یو بل عامل یې د جینوم غټوالی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مختلفو مرحلو کي په ایوکاروتاوو کی دجین تنظیم:

د (gen expression) د هغو ګډو پېښو سلسله کوم چي په عالی ارګانیزمونوکی صورت نیسي ،د ډیر پیچلی تنظیم لرونکې ده ،دغه تنظیم د(transcription factors) په نوم یو ډول فکټورونو په شتون او نه شتون متاثره کیږی

دغه فکټورونه د جین د کنټرول په یوې اساسي مرحلې باندی عمل کوي ،کوم چی چی د ټرانسکرپشن درجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوکارتاوو کي د جین د ځرګندېدلو تنظیم:

په یوکاریوتاوو کښي په دریو مرحلو کښی د جین تنظیم صورت نیسی.

1 Transcription

2 Translation

3 on the level of RNA

✓ لومړی تنظیم په هسته کښي او دویم تنظیم په سایتو پلازم کښي صورت نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترانسکرپشن په سطحه د جین تنظیم:

جینونه په ایوکاریوتاوو کی لومړی چیری فعالیږی ؟

✓جینونه په DNA کی په غیری فعال حالت باندي قرار لري او د ټرانسکرپشن په عملیه کی دا جینونه فعالیږی او د فعالیدو لپاره يې په یوکاریوتاوو کی منظم سیستم موجود دی.

✓د ټرانسکرپشن لپاره مهم شرط دادی یی د جین لپاره باید لاره پرانستی شی ،تر څو انزایمونه هغه ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓د ټرانسکرپشن د یوه عمل څخه یواځي یو جین مینځته راځي ،یعنی یوه mRNA مینځته راوړي ،او ددې mRNAطول یوازي د یوه جین درلودونکی دی.

✓د DNA په سلسله کی جینونه د انزایمونو په مرسته فعالیږی ،چی د ټرانسکرپشن د عملیې مهم انزایم د RNA-Polymeraseانزایم دی.

✓دغه انزایم د RNAپه یوې خاصې برخې پوري نښلي چی د promoter په نامه یادیږي ،په همدې برخه کی د جینونو تنظیم پیلیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Central dogma

د DNAڅخه mRNA او د mRNAپه مرسته د پروټین جوړیدلو زار ته مرکزي ډوګما ویل کیږي.

تر ټرانسکریپشن وروسته تنظیم:

✓د یوکاریوټاوو ټرانسکرپشن په هسته کی او ټرانلېشن یې په سایتوپلازم کې ترسره کیږی

✓دا چی mRNA تر څو هفتو پورې په سایتوپلازم کی پاتې کیدلای شی ،په همدې موده هم مختلف تنظیموونکی عملونه اجرا کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د RNA په سطحه د جین تنظیم ؛

✓د RNAنه یوازې د پروټین په جوړولو کی مهم رول لری بلکي د جین په تنظیمولو کی هم مهم رول لری ،ځکه د mRNA,tRNA,rRAAوجود لری.

✓د نوو څیړونو له مخي د پروټین کوډکوونکو جینونو په شمیر د RNA کوډ کوونکی جینونه موجود دی چي یوازي RNA کوډ کوي ،چی توجوه نه ورته شوی.

✓د پروټین کوډ کوونکی جینونه د ټولو جینونو د دوه څخه تر پنځو فیصدو پوري په DNA کی پیږندل شوی وه ،او باقی یې بیکاره اټلک شوی وه ،خو وروسته کشف شوه ،چی دا جینونه هم ځانته ځانګړی وظیفی لری ،چي د nur-RNA په نامه یادیږی ،چی RNA جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پروټین کوډ کوونکو او نه کوډ کوونکو جینونو فرق:

✓پروټین نه کوډ کوونکی جینونه کوچینی وی ،او start اوstop کوډونه نه لري.

✓پروټین کوډ کوونکی جینونه غټ او start and stopکوډونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Kinds of Functional RNA

پر درې ډوله ده:

1: Antisense— RNA

دا د خپل مقابل mRNA سره complementarدی چې د هغه سره جوړه کیږی ،او دوه ګونی کتار جوړوي او د ټرانلېشن مخنیوی کوي.

2: Micro RNA

دا د ځینو خاصو mRNA په ځینو برخو پوري وصل وي او په دې ډول هغه له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Ribosswitchs :3

دا داسیRNA دی ، چي د جین د یوه سویچ حیثیت لري.
د پروټین د کوډ کوونکو او نه کوډ کوونکو برخو څخه جوړه ده ،د خپل پروټین کوډ کوونکی برخې سره یو پروټین نښلوي او هغه ته د ټرانلیشن د عملیې د پرمخ بیولو وړتیا ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور تنظیمونکی جینونه:

✓همدارنګه په یوکاریوتاوو کی نور داسی تنظیمونکی جینونه شتون لري چی د نور جینونو فعالیت کنټرولوي ، لکه ځیني د RNA-Polymerase سره په promoter پیداکولو کی مرسته کوی.

✓د ژوندیو موجوداتو انکشاف هم د یوه قوي کنټرول لاندي صورت نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Oncogene

د هغه جین څخه عبارت دی چی د رامنځ ته کیدلو په صورت کی یې حجروي دوران بې نظمه کیږی ،حجرات په غیری طبیعی ډول تشکیلږی ،د حجرې تقسیم سریع کیږی ، او سرطانی حجرات منځته راوړي.

## Tumor suppressor gene

د هغه جین څخه عبارت دی ،چی د رامنځته کېدو په صورت کی یې حجروي تقسیم بندیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرطاني حجرات:

هغه حجراتو ته ویل کیږی چی تکثر یې د کنټرولہ وتلی وي ،نمو او تکثر یې بې سرحده وی ،او په نتیجه کی یې Tumorمنځ ته راځي.

## Metastasize

د سرطاني حجراتو لورني حجراتو ته ویل کیږي.

✔د حجراتو بې کنټروله نمو عوامل تر ټولو زیات په ځینو تنظیموونکو جینو کي د Mutationله امله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تومور پر دوه ډوله دی:

**(Benign tumor،سلیمه تومور)**

هغه تومور ته وايې چی نورو ځايونو ته انتقال نه کوي.

**(Malignant tumor،خپیثه تومور)**

هغه تومور ته وايې چي د وجود نورو برخو ته انتقال کوي ،په داسي ډول چي سرطاني حجرات د ويني له لاري د بدن نورو برخو کښي ځای نیسي ،او لورنۍ سرطاني حجرات منځته راوړي ،خپل شاواخو حجرات له منځه وړي ،او د ژوندي موجود د مړني سبب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپيMutationد څه شی له امله منځته راځي ؟

زيات موټېشنونه د محيطي عواملو لکه:فزيکي موټاجيونه (ماورای بنفش وړانګي ،x-ray ،او راډيواکټيف شعاعګاني) او کيمياوي موتاجينونو په واسطه رامنځته کيږي.

Carcinogen

ټول هغه عوامل يا فزيکي او کيمياوي موتاجينونه چي د سرطان د رامنځته کيدلو لامل کيږي ،د کارسينوجن په نوم ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Reverse transcription

- ✓ویروسونه هغه کوچینی اجسام دي ،چي دوی په خپله هسته کښي DNA یا RNA لري
- ✓ویروسونه دواړه ډوله هستوي تیزاب نه شی لرلای
- ✓کوم ویروسونه چي د RNA لرونکي ،نوموړي ویرونه د د خپلې RNA څخه د ویروسي DNAجوړوي ،چي د کوربه په جینوم کي ځان ځای او حجرات یې سرطاني شکل ته واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځليکونه

١: د بُست پوهنتون د نصاب کتاب[ماليکولي بيولوژي:ترتيب کوونکی:عتيق الله (سروري)]

2:GENERAL BIOLOGY PUBLISHED BY WIKIBOOKS.ORG

2: WWW.WIKIPEDIA.COM

3: SOME MORE WEBSITES OF INTERNET.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته توجوه څخه مو نړۍ، نړۍ مننه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوښتنه ؟

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**